توان

د افغان معیوبینو د هر اړخیز پروګرام خپرونه

لومړی کال دریمه ګڼه | لیندی (قوس) ۱۳۷۶ هجری شمسی | دسمبر ۱۹۹۷ میلادی

PROPERTY OF ACKU S737

سرمقاله

د ویاړنې ځای دی چې توان پخپل ټول توان او طاقت سره ځان د دریم ځل خپرونې ته چمتو کوي. زمونږ لومړیو دووګامونو په لوستونکو کې ښې انګازې راولاړې کړې، پاڼه او ګټور انتقادونه او وړاندیزونه (پیشنهادونه) یې له ځان سره مونږ ته د خوارۀ سوغات په توګه راوړل او همدغو ګټورو انتقادونو او رغنده وړاندیزونو دا دی مونږ دې ته وهڅولو چې د ګرانو معیوبینو او درنو لوستونکو لپاره د توان دغه دریمه ګڼه د خپلو ښو هیلو په څپو کې د یو شمیر ګټورو معلوماتو سره ډالۍ کړو. توان به بیا هم دخپل توان او پرله پسې هڅو سره سره لکه چې یو نورمال او عادی کار دی، بشپړتیاوې او نیمګړتیاوی ولری. توان دا ځل بیا خوږې قصې، علمی بحثونه او همدارنګه د خواخوږۍ نه ډک شعرونه لری نو خامخا به د بیلابیلو لوستونکو په نظر بیلا بیل جامې واغوندی. خو زمونږ همیشنی هیله داده چې خدای دې وکړی دا ګڼه هم زمونږ د مستحقو او برابرو ورونو معیوبینو او نورو لوستونکو لپاره د ګټې او استفادې وړ وي او هغوی په عین وخت کې د پخوا په شان له مونږ څخه خپلې ښې نظریې معلومات او وړاندیزونه ونه سپموی. مونږ ستاسو سوغاتونو ته ځولی پرانستی او انتظار یو.

پدې ګڼه کې:

د معیوبینو په اړوند لومړنی ملي ورکشاپ ..... "اداره" ۱

طرق استفاده از خدمات ورکشاپ های اورتوپیدی. .... "نجیب الله رهگذر" ۳

کوچنی مرستې ..... "جمیله امان" ٤

دمعیوب دریځ په ټولنه کې "حکمتی" ٦

تعلیم و تربیه و تعلیمات خاص برای افراد معیوب ..... "محمد ابراهیم" ۷

ای معیوب ..... "فهیمی" ۸

معیوب ته خطاب . "منګل احمدی" ۸

نگاهی به وضع زنده گی فیض محمد در سه دوره ذیل ..... "ولی محمد" ۹

روز بین المللی معیوبین "وحدت" ۱۱

د معیوبینو په اړوند لومړنی ملـــي ورکـــشاپ

د افغان معیوبینو د هر اړخیز پروګرام له خوا او د اکبر د مؤسسې په مرسته د معیوبیت په هکله د لومړي ځل لپاره دوه ورځنی ملي ورکشاپ په پیښور کې د سپتامبر د میاشتې په درویشتمه نیټه پای ته ورسید.په دغه ورکشاپ کې چې دوه ورځې یې دوام وکړ د څه د پاسه نهه ویشتو مؤسسو استازو چې د معیوبیت په بیلا بیلو برخو کې کار کوي ګډون درلود.

ورکشاپ د ښاغلې پیټر کولرج په افتتاحیه وینا پرانیستل شو چې د لاندنیو دریو عمده اهدافو پربنسټ جوړ شوی وؤ.

۱. په افغانستان کې د معیوبیت په

هکله یو ګډ دریځ غوره کول.

۲. د مرستې کوونکو مؤسسو یو له بله سره پیژندل او دیو بل د پروګرامونو او فعالیتونو په هکله د خبرتیا تر لاسه کول.

۳. د راتلونکو سیمینارونو لپاره د موضوعاتو تاکل.

وروسته فاروق وردګ د معیوبیت په موجوده حالت او د هغه د راتلونکي وضعې د ښیرني په باب وینا وکړه. هغه دمعیوبیت په هکله د طبي او تولنیزې مخنیوي

- د تولنیزو بندیزونو مخنیوي چې پر زیانمنو خلکو تحمیل شوي دي.

هغه مهم ټکي چې ښاغلي وردګ پرې ټینګار وکړ دا و چې معیوبین پخپله د ځان په هکله منفي خیالات لري چې دا پخپله د تولنیز چال چلند په بدلیدو کې لوی خنډ بلل کیږي. تغییر باید پخپله د معیوبینو د خپلې پوهې نه پیل شي ترڅو هغوي د دې جوګه شي چې ځان د

د معیوبینو په اړوند لومړی ملي ورکشاپ

ښیرني وروسته وویل: "معیوبیت په کلی توګه نه طبي او نه تولنیز مشکل دي بلکې د زیانمنتوب او د زیانمن سري اړیکه د محیط سره بلل کیدای شي. بیارغونه او دا چې څرنګه د معیوبیت نه مخنیوي وشي هم د بحث وړ موضوع وه چې لاندې درې اصلونه یې ډیر مهم شمیرل کیدای شي:-

- د زیانمنتوب مخنیوي
- د موجوده زیانمنتوب د لاخرابیدو

تولنې با ارزښته او مساوي غړي وبولي.

بیارغونه یې هغه تولنیزه پروسه وبلله چې دمعیوب شخص له مخې هغه موانع له منځه وړي، چې له تولنې سره یې یو ځای کیدو خنډ ګرځي.

د بیا رغونې د مختلفو دولونو د توضیح کولو نه وروسته هغه CBR د بیا رغونې، برابرو امکاناتو، تولنیزې برخه اخیستنې، د معیوبینو د یووالي او د تولنې د داخلي ودې او انکشاف لپاره تر ټولو اغیزمنه ستراتیژي و بلله. هغه زیاته کړه چې CBR معیوبیت د یوې حقوقي موضوع په توګه ښیژني، نه د یوه طبي مشکل په توګه.

همدا رنګه د CBR د مثبتو لاس ته راوړنو، محدودیتونو، امکاناتو او د پروګرام د اهدافو او نظر په هکله یې معلومات ورکړل.

نه مه ری د پروګرام د ځانګړتیاو او رسالت، د معیوبینو، تولنې، حکومت، غیر دولتي مؤسسو او ملګرو ملتونو د ادارو ضرورت چې د معیوبینو لپاره کارکوي په ګوته کړل او د ټولو پر همکاري یې تاکید وکړ.

د محترم فاروق وردګ له وینا وروسته ښاغلي وینکټیش د معیوبیت او د خپلو تجربو په هکله چې په دې برخه کې یې لرې خبرې وکړې. نومورې چې پخپله یو نابینا دي د دغه ورکشاپ میلمه او ځانګړې غړی و چې له هندوستان څخه رابلل شوي و چې ګوندي د دوي له تجربو نه په افغانستان کې استفاده وشي.

په سیمینار کې ګډوډي کار د ښاغلي وینکټیش له خوا د ورکشاپ هغه برخه وه چې ګډون کوونکو ته یې د معیوبیت په هکله د عملي فکر کولو نظر ورکړ چې په دې توګه خلك د معیوبیت لپاره د خپلو تولنو او کلتور په سطح طرحې او پلانونه جوړکړي.

د دې خبرې ډیر ښه ثبوت دا لاندې هغه دوه مثالونه دي چې د ورکشاپ ګډون کوونکو پرې کار وکړ.

لومړی مثال دا و چې "بیمارو" یو ښار

دي او هلته د زلزلې وروسته کوم ضروری کارونه دي چې باید پرې کار وشي.

دوهم مثال چې ګډون کوونکو پرې کار وکړ عبارت دي له دي څخه چې، آیا جلا پروژې او پروګرامونه معیوبین له تولنې څخه جلاکوي؟ په دې کار سره هغه وغوښتل د ګډون کوونکو نظریې معلومې کړي چې تر کومه حده ورته او متفاوت نظرونه موجود دي.د ورکشاپ په دوهمه ورځ ښاغلي سهاك په عمومي تصمیم ګیری کې د میوبینو د وندې اخیستنې په باره کې خبرې وکړی. وروسته بیا ښاغلي کیت وایز د اکبر د مؤسسې څخه د معیوبینو د سپورتي سیالیو په هکله چې د CDAP او اکبر د مؤسسې په ګډه همکاری په کابل کې د ۱۹۹۷ کال دجولای په میاشت کې ترتیب شوې وې، ګډون کوونکو ته معلومات ورکړل.

سیمینار د یولر هغو موضوعاتو او مشخصو برخو په تاکلو سره چې کولای شی د معیوبینو د بیارغونې او سوکالې لپاره پرې کار وشی پای ته ورسید.

طرق استفاده از خدمات ورکشاپ هاي اورتوپیدي.

تداوم جنگ ۱۹ ساله در کشور عزیز ما خود قربانیهاي فراواني بجا گذاشته که از ان جمله میتوان معیوبین را نام برد که مستقیماً و یا غیر مستقیماً آسیب دیده اند.

معیوبینی که مستقیماً آسیب دیده اند عبارت از کسانی اند که جراحت برداشته اند، عضوی از بدن شان قطع شده ویا ناقص گردیده است. دیگر آسیب دیدگان جنگ شامل کسانی اند که بااز بین رفتن سیستم خدماتی صحی در کشور که باعث شیوع سریع السیر امراض مهلك و معیوب کننده، مانند توبرکلوز، پولیو، فلج دماغی، مرگی، جذام و دیگر امراض مانند اینها گریده، معیوب شده اند.

۵۰ فیصد آسیب دیده گان از جملهٔ معیوبینی اند که مشکل حرکی دارند و دور از مردم و اجتماع خود در کنج منازل خویش باقی مانده اند. ممکن هیچ وسایل ابتدایی را هم بدسترس نداشته باشند تا با استفاده از آن گشت و گذار نمایند و همین گوشه نشینی باعث می شود تا به معیوبیت آنها آفزوده شده و شکل وخیم را بخود گیرد.

بناء لازم است این آسیب دیده گان مایوسی را بخود راه نداده و از ابتدائی ترین وسایل غرض حرکت نمودن از جایی به جایی دیگر اقدام نمایند و به توانایی خویش باور داشته باشند تامتکی بخود گردند.

در بازتوانی این نوع آسیب دیده گان خدمات اورتوپیدی نقش ارزندهٔ دارد. ورکشاپ های اورتوپیدی پروگرام همه جانبهٔ معیوبین افغان در ولایات غزنی، تخار و مزارشریف فعالیت دارند. این ورکشاپها خدمات برازندهٔ ذیل را بطور رایگان به هموطنان آسیب دیدهٔ خود عرضه میدارد.

۱. تهیهٔ اعضاء مصنوعی به کسانیکه پاها و یا دست های شان قطع شده باشند.

۲. قالب های استنادی و یا قالب های کمکی به کسانیکه قسمتی از بدن شان فلج بوده و یا بصورت درست فعالیت نمیکند و یا برای جلوگیری از

یکی از ورکشاپ های تهیه اعضاء مصنوعی، CDAP در افغانستان.

سؤ شکل عضو بدن تهیه میگردند. مانند: قالب های استنادی برای فلج پاها، دست ها، کمر، گردن و وسایل دیگر مانند اینها.

۳. تهیه کمك های تخنیکی غرض راه زفتن، مانند، چوب های زیر بغلی، عصاء دست، چوکات ها برای راه رفتن، چوکی های مخصوص برای مفلوجین دماغی و وسایل دیگر مانند اینها.

ما درین قسمت بحث خود توصیه به آنعده آسیب دیدگان داریم که عضو بدن شان قطع و می خواهند بار اول اعضای مصنوعی بدست بیاورند.
کسانیکه پای شان بالای زانو و یا پایان از زانو قطع می شود ضرور است به توصیه های ذیل گوش دهند. بعد از عمل جراحی که زخم آنها صحت یاب می شود معیوب عضو قطع شده خود را هر وقت بطور وقفه در آب سرد پاك بگذارد تا عضو باقی مانده خود را سخت نموده و از پندیدگی بعد از عملیات جلوگیری شود. شبانه عضو قطع شده را در حدود "۲۰" سانتی متر بالا قرار دهد تا جریان خون درین منطقه بطی شده واز پندیدگی جلو گیری بعمل آید.
عضو قطع شده همیشه بطور مستقیم نگهداری شود و مفاصل مربوط را همیشه حرکت داده تا از شخی و کوتاهی در عضلات عضو قطع شده جلوگیری شود. شخص آسیب دیده به زودترین فرصت به شعبه فزیوتراپی تماس برقرار نماید و تمریناتی را که غرض تقویت عضلات عضو آسیب دیده تجویز مینمایند تعقیب نماید.

زمانیکه عضو آمادۀ گرفتن اعضای مصنوعی شد فزیوتراپست شخص معیوب را به ورکشاپ معرفی خواهد کرد. شعبۀ فزیوتراپی باورقه معرفی شخص معیوب را به ورکشاپ اعزام میدارد. نفر فنی ورکشاپ قالب پای معیوب را گرفته و ثبت کتاب مینماید و در عوض به معیوب کارت میدهد که این وقت شخص بازگشت را تعین مینماید و در وقت مراجعه شخص آنرا باید با خود داشته باشد.

اشخاص فنی ورکشاپ در یك ویا دو روز بعد از مراجعه به شخص معیوب پای مصنوعی که به شکل ابتدایی آن میباشد، میسازد. و شخص را دوباره به شعبه فزیوتراپی اعزام می دارد تا طریق درست راه رفتن با پای مصنوعی را یاد بگیرد. درین مدت که چند روز را دربر خواهد گرفت، فزیوتراپست از پای شخص مراقبت نموده تا زخم نبرداشته و هم تمرینات لازمه را تجویز میدارد. نفر فنی ورکشاپ در بهبودی پای مصنوعی شخص کارمیکند که در اخیر پای مصنوعی معیوب تکمیل گردیده و برایش تسلیم داده خواهد شد.

معیوب در مراقبت و مواظبت عضو مصنوعی خویش رول مهمی را دارد. عضو مصنوعی همیشه باید پاك شده ساکت و جراب های مربوطه آن شسته شود تا مشکل جلدی را به شخص معیوب بار نیاورده و عضو قطع شده در مصؤنیت کامل قرار گیرد.

کوچنی مرستې

د افغان معیوبینو د هر اړخیز پروګرام له فعالیتونو څخه یو هم د محلي نوښتونو تشویقول دي چې معیوب خلك د غیر دولتي مؤسسو په جاري پروګرامونو کې د کوچنیو مرستو په وسیله سره یو ځاې کوي.

مور په مختصره توګه د هغو مؤسسو یادونه کوو چې د CDAP له خوا ورسره مالي مرسته شوې ده. او هغه دادی:

ـ موتیویشن (nMotivatio)
دا یوه انګلیسي خیریه مؤسسه ده چې د پنځو کلونو راهیسې د نړۍ په دوولسو مختلفو هیوادونو کې کار کوي. د نوموړي مؤسسې اصلي هدف په پرمختیایی هیوادونو کې د معیوبینو لپاره د بایسکل جوړول دي.

دغه مؤسسه افغانستان ته د سندیګال د مؤسسې له خوا معیوبینو ته د نوي ډیزاین معیاري بایسکل جوړولو په خاطر چې ټولو معیوبینو ته د استفادې وړ وي، رابلل شوې ده.

د بایسکل جوړولو په برخه کې تخنیکران په جلال آباد کې د سندیګال په ورکشاپ کې چې د IRC له خوا ورسره مرسته کیږي روزل شوي دي. تر

اوسه پورې د غزني او مزارشریف څخه تخنیکران د CDAP لپاره روزل شوي دي او د قندهار لپاره پرې کار روان دي.موتیویشن همدارنګه د ملا د تیر زیانمنو خلکو او نورو د بایسکل څخه د کار اخیستونکو سره د لازمو معلوماتو او سپورتي سیالیو د برابرولو په برخه کې مرسته کوی.

د سپورتي سیالیو په لړ کې نوموړی مؤسسې د جلال آباد او قندهار د باسکټ بال ټیمونه د روان عیسوي



کال د جولای په میاشت کې کابل ته واستول. د سیالیو ګډون کوونکي د بیلا بیلو معیوبیتونو درلودونکي خلك وو چې د جلال آباد، قندهار او پخپله د

کابل د مختلفو برخو څخه یې په دغه

سیالۍ کې برخه اخیستی وه.

د موتیویشن مؤسسې تر اوسه دا لاندې پنځه واړه لارښودونه د CDAP په مرسته برابر کړي چې په پښتو او دری ژبو کې چاپ شوی دي:

- څرنګه خپل بایسکل وساتو.
- څرنګه د خپل بدن ساتنه او مراقبت وکړو.
- څرنګه له خپل بایسکل څخه ډیر زیات کار واخلو.
- څرنګه خپل بایسکل ته ورپورته او تړې راښکته شو.
- ستاسو د بایسکل بیلا بیلې برخې.

له دغې مؤسسې سره د CDAP د مرستې هدف په افغانستان کې د معیوبینو بیارغونه ده.

- بله مؤسسه چې CDAP ورسره مرسته کړې د افغانستان د نابینایانو انجمن دي چې په دې وروستیو وختوکې د افغانستان په مختلفو برخو کې د نابینایانو لپاره د اتحادیو د جوړلو او د پلانونو د طرحې په غرض منځ ته راغلی دی.

دغې مؤسسې چې د ښاغلی محمد صدیق له خوا یې مشري کیږی او هغه پخپله هم یو نابینا دی، خپل دوهم کلنی کنفرانس په جلال اباد کې جوړ کړ.

ښاغلی پیټر کالریج د CDAP د پروګرام رئیس، او د پروګرام د ځینې نورو برخو مسؤلینو په کې ګډون کړی و.

- ابرار بله هغه مؤسسه ده چې CDAP ورسره مرسته کړې ده.

نوموړی موسسه په جلال آباد کې معیوبینو ته د بایسکل د ځغاستې، بایسکل جوړولو، پښتو سواد، لومړنۍ مرستې او داسې نورو برخو کې زده کړه ورکوی.

د بایسکل د جوړولو په برخه کې هره میاشت ۲۰ تنه زده کوونکی روزی. همدارنګه د غه مؤسسه د جلال آباد په ښار کې د فزیوتراپي خدمات هم برابروي.

- د اوریدو د زیانمنو لپاره افغاني مؤسسه (HIFA) نوموړې مؤسسې له CDAP څخه د لاندې پروژو د پلي کولو لپاره مالي کومکونه تر لاسه کړي:

- د کابل په ښار کې ۳۰ تنو ماشومانو ته چې د اوریدو مشکل لری د عملي مهارت او لاسی صنایعو پروژه.
- د کابل په ښار کې ۲۰ تنو ماشومانو ته چې د اوریدو مشکل لري د بوټ جوړولو پروژه.
- د کابل په ښار کې ۵۰ تنو ماشومانو ته چې د اوریدو مشکل لري د اشارې ژبې د زده کړې پروژه.

د معیوب دریځ په ټولنه کې

دریځ یا مقام د انسان له کړو وړو او هغه مسئولیت او صلاحیت سره مستقیمی اړیکی لری چی یو څوك یې پر مخ بیایی. یا په بله وینا په ټولنه کی د یو فرد اجتماعی دریځ او موقف د هغه یا هغی په اړونده رول پوری مربوط دی. که یو څوك د ښوونی او روزنی دنده په غاړه لری اوشاګردان روزی، نو هغه د ښوونکی په صفت رول لوبوی او د ښونکی یا استاد په سترګه ورته کتل کیږی که یو څوك د اداری چارو په سرکی وظیفه په غاړه لری نو هغه د یوه اداره کوونکی یا آمر دریځ او موقف لری او ټولنه په همدی سترګه ورته ګوری. نو ددی معنا دا شوه چې د هر فرد اجتماعی دریځ په ټولنه کی په هغه رول او یا دندې او وظیفی پوری اړه لری چې یا یې د خپل لیاقت او کارپوهنی په اساس تر لاسه کړی او یا د کومی پیرزوینی او لزوم دید په اساس دغه رول او دریځ ورکړای شوی دی. زمونږ منظور هغه دریځ نه دی چې د پیرزوینی په اساس چاته قایل دی او د هغه لیاقت نه لری. معیوبین چی د بدن دیوه غړی یا یو یې برخې په زیانمن کیدو او یا له لاسه ورکولو سره نیمګړی کیږی. نو په همدی وجه هغه رول او دنده هم له لاسه ورکوی چې په عادی حالت کې ورپه برخه کیږی. اوله همدی سره جوخت هغه اجتماعی موقف او دریځ ته یی هم تاوان رسیږی چی په عادی توګه یې ترلاسه کولای شی او یا ئې پخوا درلود خو وروسته له معیوب کیدلو یې هغه له لاسه ورکړی دی.

خو دا خبره اساساً په پرمختیائي یا وروسته پاتی ټولنو کې ډیر صدق کوی چی یو شخص په معیوبیدلو سره خپل مخکینی دریځ بیخی له لاسه ورکوی. د ټولنی د افرادو له خوا ورته په ټیټه سترګه کتل کیږی. د بیکاری په لور یې تیل وهی او په دی توګه پخپله معیوبین هم ځان تر نورو کم بولی، د حقارت احساس کوی او د بیا رغونی او فعال کیدلو هیله له لاسه ورکوی. په داسی حال کی چې یو معیوب د بل هر انسان په توګه د برابرو حقوقو مستحق دی او باید له نامعیوبو اشخاصو سره د کار او فعالیت برابر چانس ورکړی شی. او کله چی د خپل توان او استعداد یا قابلیت سره سم د معیوب په بیا رغونه کی کوشش و شی او هغه بیا ورغول او وتوانول شی، نو هر معیوب په یوه نه یو کار کې تکړه کیږی او کولای شی چی، بیا یوه دنده او وظیفه ځان ته غوره کړی او خپل رول په بریالیتوب سره په کورنی او ټولنه کی ولوبوی. او مثبت دریځ یا مقام تر لاسه کړی.

کله چې معیوب له سره ورغول شو، نو هم به په کورنی کی یو مسئول غړی او د باور او اعتماد وړ فرد اوسی او هم به په ټولنه کی د یوه کار او مسئولیت په غاړه اخیستلوکی بریالی وی.

کله چې یې کار او وظیفه اجرا کړل نو د دغی وظیفې او رول سره سم به یې په ټولنه کی هم دریځ بیرته ښه شی او هیڅوك به د یو بیکاره شخص په سترګه نه ورته ګوری. ډیر معیوبین مولیدلي دي چې د یوې پیښې له امله معیوب شوی دی او له هغه سره جوخت یې خپل اصلی کار او دنده هم له لاسه لویدلی ده. او د خلکو په نظر یو بې وسه او دترحم وړ غیر فعال شخص بلل شوی دی. مثلا احمد یو تکړه معمار و چې په خپله سیمه کې یې ښه نوم ګټلی و او هر چاته د باور او منلو وړ کاریګر او استاذ ښکاریده. نو په محل کې یې لوړ دریځ هم درلود. هر چابه دخپلو ودانیو (کوټو) د ودانولو لپاره احمد ته کار ورکاوه. هر چابه ستایه او د کار صفت به یې کاوه.

خو کله چې یې په یوه ترافیکی پیښه کی د واړه پښی ماتی شوی او د ملا تیر یې هم ژوبل شو، احمد په بستر پریوت او هر څه تری ولاړل. نور نو احمد د معماری رول او دنده نه شوای په غاړه اخیستلای او نه چاتری هیله کوله. هغه د خپلې کورنی ډوډی ګټونکی نه بلکې صرف یو ډوډی خوړونکی شو چی د ماشوم په دود به د بل لاس ته احتیاج و. چا په سیمه کې هم نور د هغه نوم نه اخیست او نه یې کومو مراسمونه د بلنی ست ورته کاوه. لنډه داچې احمد خپل اجتماعی دریځ هم په کورکی او

هم په ټولنه کې له لاسه ورکړ.خو احمد ته د يوې موسسې له خوا د خياطي روزنه له نورو معيوبينو سره يو، ځای ورکړای شو او په يو ځومياشتو کې ښه خياط تړې جوړ شو. په کلي کې يې يو د خياطی دوکان د دغې موسسې په مرسته پرانيست او يو کال لانه و تيرشوی چې احمد د خياطی په دنده کې دومره تکړه شو چې په سيمه کې يې سيال نه و. له ليرې ليرې کليو به خلکو راز راز جامې د ګندلو لپاره د احمد دوکان ته راوړلې او په اغوستلو به يې فخر کاوه. ځوانانو به يو بل ته ويل چې "د امې د احمد په دوکان کې جوړ کړې دی.

احمد خو د ګندلو په کار کې ساری نه لری . . ." لنده دا چې احمد اوس په ټولنه کې د يو تکړه ګندونکی يا خياط رول په غاړه درلود او ديوه تکړه خياط په حيث يې ښه دريځ او موقف په خپله ټولنه کې تر لاسه کړ.

اوس هغه ورځې تيرې وې چې احمد به د کور په کونج کې يا په صوفه باندی لمرته کړی ورځ (تۆله ورځ) بيکاره پروت و او د خپلې کورنۍ د اوږو پيتی او د ټولنی يو عاطل او بيکاره غړی و. اوس يې د ملا تير هم د څه درملو په مرسته ښه شوی و او په ساعتونو ساعتونو ناستی نه ستومانه کيده.

د کورنۍ لپاره هغه نور د ډوډۍ خورونکی نه، بلکې بيا يو تکړه ډوډۍ ګټونکی او راوړونکی و. هغه ډيری پيسې ګټلې او له خپلو ورونو سره يې هم مرسته کوله.

نو کله چې مور د احمد دا لنډ مثال په پام کې ونيسو، په ډاډ سره ويلای شو چې هر معيوب په بيا رغيدنې سره کولای شی چې په ټولنه کې خپل حقه دريځ او موقف تر لاسه کړي. په ورځسته پاتې ټولنو کې د معيوب پرمخ د تبعيض دروازی پورې کيږی او هر ډول امکانات يې له لاسه وځی خو په پر مختللی نړی کې د بيا رغونې امکانات ډير او معيوبين په لږه موده کې بيرته پخپلو پښودرول کيږی. او په ټولنه کې د هغوی دريځ هميشه د درناوی ور وي.

خو کله چې حتی زمونږ غوندی په ورځسته پاتې ټولنې کې هم معيوب ته د بيا رغونې چانس ورکړای شی، معيوب که نر وی او که ښځه، په يوه نه يوه دنده کې کاميابيږی، پخپلو پښو درېږی او په همدی توګه په ټولنه کې خپل دريځ او درناوی تر لاسه کوی.

د CDAP پروګرام همدا اوس داسی ډيری بيلګې لری چې د CBR له مخې ډير احمدان يې په خپلو پښو درولی او د کار او کسب خاوندان يې ګرځولی دی او په دې توګه دغو معيوبانو په خپلو کورنيو او ټولنو کې خپل مثبت دريځ بيا لاس ته راوړی دی. د CDAP د دغو ښو هڅو دلازيات بريالیتوب په هيله.

د بريل زده کړه

تعلیم و تربیه و تعلیمات خاص برای افراد معیوب

وزن را فرض ـ گردانیده. بنابرآن تعلیم و تربیهیکجزء اساسی برای تمام افراد جامعه می باشد.

در پیشرفت و ترقی یك کشور تعلیم وتربیه رول بسزایی دارد و تماماً افراد جامعه نیاز دارند که از نعمت تعلیم وتربیه برخوردار باشند. بناء معیوبین

باقیه در صفحه ۱۰

ای معیوب

بحال نا امیدی از چه هستی زار ای معیوب
بچشم دیگران گرچه نما یی خوار ای معیوب
نباشد کس به فکر وضع و حالال پریشانت
یقین هستی تویك در ماندۀ پرکار ای معیوب
زمعیوبی ترا احساس مأیوسی نمی باید
نباشد آنقدر ها وضع تو دشوار ای معیوب
چرا در گوشۀ فامیل فتادی بی سروسامان
نباید باشی در تاریکی روز گار ای معیوب
برون از خانه آی در اجتماعت زندگی میکن
شود این مشکل پرپیچ و خم هموار ای معیوب
اگر فامیل توجه ای ندارد بر حال تو
بتو مژده که CDAP بود غمخوار ای معیوب
نمیخواهد ترا دیگر که تو افتاده تن باشی
بحالت می شتابد تا شوی در کار ای معیوب

"فهیمی"

معیوب ته خطاب

راکړه لاس دې راکړه ته دماغوندې انسان یې
همنوعه زما ورور یې هم پر هر چاباندې ګران یې
په ملا باندې چې خم شوې ستا په دې کې څه ګناه وه
په جوړو پښو روان وې درته جوړه دا قضا وه
په دې کله خبر وې په دې لاره چې روان وې
پټ ماین کې قرباني شوې اوس د روغ ځان په ارمان یې
تقد یرته هسې ګوره دتاکله دا رضاوه
ازل کې وه لیکلي تاته پته دا بلاوه
لاس، پښه دې غوڅه شوې یا ستر ګه دې وتلې
جهان د تا خدمت کا، ټولو دې ته ملاترلې
نعمت خو روغ صورت دې ډیر اجرونه دي په دې کې
چې خدمت د یو معیوب کا ثوابونه دي په دې کې
عیبونه خو دا نه دې دغرو نیمګړتیا
عمل کې چې نقصان وي دا لوې عیب دې دهر چا
زما مسئولیت دا دي لاس نیوی به دې کوم
تر څو مې چې وس رسي تنها تاکله پریږدم
دا حق د تاپه مادې زه دې کله هیروم
کومك ته دې رسیږم ستا حاجت روا کوم
راپورته شه معیوبه امیدواریی د عمران
طلب ګار شه علم زده کړه تاکې وینمه دا توان
"احمدي" فکر وکړه دا ارشاد د پاك رسول ﷺ دې
د بې وزلو لاس نیوې د الله ﷻ در کې مقبول دې

منګل "احمدی"

نگاهی به وضع زنده گی فیض محمد در سه دوره ذیل

۱. دورهٔ اول

فیض محمد از ایام تولد یك پسر هوشیار تیز هوش بوده و همیشه به مدرسه می رفت و درس می خواند. اکثر کارهای خانه را انجام میداد، بسیار شوخ و علاقمند بازی با همسالان خود بود. او در ۱۳ سالگی بنا بر مریضی دید چشم خود را از دست داد که دنیای روشن به او تاریك شد.

دورهٔ دوم

این دورهٔ پر مشقت ورنج آور به فیض محمد، و فامیل وي بود او کاملاً بار دوش فامیل بوده واز زنده گی خود رنج میبرد. او میگفت چیز هایکه من در اوقات و زمان بینایی خود روی زمین دیده بودم هیچ کدام آن با من نمی سازد و من از انها نهایت ترس دارم مانند بلندی پستی روی زمین چاه آب، درختان و غیره. فیض محمد بی حد لاغر و ضعیف شده بود.

همیشه آرزو داشت کسی بیاید که با او صحبت کند. همین بود که دفتر CDAP تخار پروگرام بازتوانی معیوبین را در همان ولسوالی آغاز کرد.

دورهٔ سوم

دوره بازتوانی فیض محمد می باشد. د فتر CDAP تخار نظر به لزوم دید و باز توانی معیوبین ولسوالی اشکمش یکنفر کارمند ساحوی را بنام محمد داود استخدام کرد. کارمند ساحوی در دفتر CDAP برای دو ماه آموزش ابتدایی را از طرف استادان بدست آورد.

بعداً به ولسوالی مربوط خود جهت بازتوانی معیوبین آن ولسوالی مراجعه نمود و سروی خانه به خانه را آغاز کرد. در نتیجهٔ سروی فیض محمد کسی بود که نیاز بیشتر به کمك و باز توانی داشت. کارمند ساحوی بعد از مشوره با فیض محمد و اعضای فامیل شان یك تن از همسایه گانش را که احمد نام داشت و متعلم صنف ۱۰ مکتب بود بحیث مربی فامیلی فیض محمد انتخاب کرد. پروگرام بازتوانی زا با استفاده از تکنالوجی دست داشتهٔ خود مثلاً کتابچه های ۲ و ۳ کتاب سازمان صحی جهان "WHO" که معلومات بیشتر در مورد جهت یابی یعنی مراقبت از خود بدون خطر بخاطر بازتوانی معیوبین کار میکند. نه بخاطر عمران و بازسازی پل وپلچك.

حرکت کردن و استفاده از عصاء چوب و غیره معلومات میداد این کار را بتاریخ ۲- ۷ - ۹۷ آغاز کرد.

با گذشت مدت کوتاهی تقریباً دو ماه در چهره ووضع صورت فیض محمد تغییرات بیشتر از لحاظ جسمی، صحی، قدم زدن بارهنما، و استفاده از تشناب به نظر میرسید. مدت زیادی نه گذشت یعنی بعداز سه ماه به قریه فیض محمد رفتیم. دیدم پل تخریب شده که خانه فیض محمد را به مسجد قریه و صل میکرد ترمیم شده بود یکی از موسفیدان قوم برایم گفت این فعالیت را یکی از کارمندان مؤسسه کردند که محمد داود نام دارد. من تعجب کردم گفتم پدر، محمد داود



یك تن نابینا در حالت تمرین آموزش حرکت کردن با عصاچوب

موسفید قریه گفت "محمد داود در قریه مایان یك کمیته بازتوانی معیوبین ساخته به اثر سعی و تلاش کارمند ساحوی و کمیته بازتوانی معیوبین جهت رفت وآمد فیض محمد این پل یا پلچك ترمیم شد". الحال فیض محمد بدون کدام مشکل به مسجد میاید کمیته بازتوانی موانع دیگر که در مسیر راه رفت و آمد وجود داشت برداشته است. این کار زمینه را برای رفت و آمد فیض محمد مساعد ساخت و آن موانع که عبارت از پستی و بلندی است از روی زمین که باعث اذیت اطفال و همسایگان میگردید نیز از بین برد.

من باشنیدن این فعالیت های مردم که وظیفه ایمانی و اسلامی شان بوده ,بسیار خوش شدم. سخنی از شاعری در همین لحظه بیادم آمد که گفته است.

اگر بینی که نابینا و چاه است
اگر خاموش بنشینی گناه است

بعداً نزد فیض محمد رفتم و او را از نزدیك دیدم. همرایش خیلی دیر نشسته گفتم، فعلاً رفت و آمد کرده می توانید؟ گفت "بلی"

احمد جان مربی فامیل من بود نهایت زیاد با من زحمت کشید تا جائیکه من نقشه دارم بدون رهنما با استفاده از عصاء راه می روم مثلاً در صحنه حویلی باغچه، نزد چاه آب، مسجد و غیره.

گفتم فعلاً "کدام مشکلی دارید"؟ گفت "بلی"

"مشکلات من نداشتن پول و در امد است. باید کار کنم واز خود عاید داشته باشم" من گفتم، شما چه قسم کار می کنید"؟ گفت "احمد جان مربی فامیلی و کارمند ساحوی با خود یك لست از مشاغل برایم آورد که در آن لست بسیاری از مشاغل ذکر بود. من می توانم یکی از آنهارا بری خود انتخاب کنم. مثلاً مرغداری، گاو داری، سبزی کاری، دوکانداری، پاکت سازی، بوریا بافی و غیره". بناًء خودم نسبت کمبود وقت از فیض محمد جان خدا حافظی کرده رفتم.

دیری نگذشته بود که فیض محمد به دوکان همان قریه شیر و ماست تازه را برای فروخت آورد. گفتم "شیر و ماست را از کجا کردی"؟

گفت "یك گاو شیری خریدم" گفتم "پول را از کجا کردی که گاو را خریدی؟" گفت "٪۵۰ قیمت گاو را کمیته بازتوانی پرداخت که البته به قسم قرضه برایم معاونت کردند و ٪۵۰ آن از محصول زمین خود یکجا کرده گاو را خریدم. الحال بدون مصارف و خرچه گاو روزانه دو هزار افغانی پس انداز میکنم". من نهایت از پروگرام بازتوانی معیوبین در جامعه خوش شدم بخاطریکه چندی قبل وضع پر مشقت وزندگی رنج آور فیض محمد را دیده بودم. او فعلاً کاملاً متکی بخود است و در جامعه خود نقش فعال دارد.

من الله توفیق

تعلیم و تربیه و.....

آنها نیز مستحق تعلیم و تربیه جامع و مؤثر می باشند.

تماماً افراد معیوب به آموزش مسلکی و اجتماعی درمورد یافتن جای مناسب و شایسته برای خویش در اجتماع ضرورت دارند. طوریکه افراد سالم جامعه استعداد و توانایی های خویش را از طریق آموزش، تعلیم وتربیه رشد و انکشاف میدهند، معیوبین نیز توانایی این کار را دارند و افراد معیوب نظر به نیازمندی های خاص شان به تعلیمات خاص ضرورت دارند مثلاً: یك فرد نابینا که چیزی را دیده نمی تواند، ولی حس لامسه آن خیلی خوب کار می کند و حتی ذکاوت آن شاید بالاتر از یك شخص سالم باشد.
خلاصه اینکه خط بریل برای افراد نابینا، زبان اشاره برای افراد ناشنوا و

آموزش تعلیمات خاص برای افراد نارسایی هوش می تواند جوابگوی نیازمندی های خاص تعلیم و تربیه همچو افراد باشد.
بخش تعلیمات خاص پروگرام CDAP

تخار باستراتیژی دست داشته یعنی CBR در ساحات مربوطهٔ خویش در نظر دارد برای رفع نیاز مندی های افراد معیوب کورس های آموزش تعلیمات خاص معیوبین را برای معلمین مکاتب دورهٔ ابتدائی که رضاکارانه سهیم میشوند، در چند نوبت دایر نماید تا باشد که باتربیه نمودن همچو معلمین رضاکار در مکاتب تماماً اطفال بدون در نظر داشت معیوبیت ایشان یکجا از نعمت تعلیم و تربیه برخوردار شوند.



برای اولین بار در کشور تجلیل گردید.

"همهٔ اعضای خانواده بشری آزاد و باحقوق و کرامت یکسان بدنیا می آیند" این عبارت اولین جمله اعلامیه جهانی حقوق بشر را تشکیل میدهد که در سال ۸٤۹۱ یعنی (۵۰) سال قبل توسط اسامبله عمومی ملل متحد تصویب گردیده است. ملت ها نه تنها در راه تحقق این اصل مهم بشری طی پنجاه سال گذشته موفقیت چندانی بدست نیآورده بلکه تساوی حقوق وزمینه ها در عصر ما بحیث چلنج بزرگ به سر راه پیشرفت، صلح ورفاه

در جهان ما حقوق ملیون ها انسان معیوب و معلول یا شدیداً تحت تهدید قرار گرفته و یا هم اصلاً تلف گردیده است.

جوامع بشری قرار گرافته است.
در جهان ما حقوق ملیون ها انسان معیوب و معلول یا شدیداً تحت تهدید قرار گرفته و یا هم اصلاً تلف گردیده است. جهت رفع این نقیصه طی سال های گذشته گام های مثمری نیز برداشته شده ولی با وجود آن هم معیوبین جهان مخصوصاً در کشور های جهان سوم به امکانات تعلیمی، محیط زیست مناسب ویکسان با دیگران و زمینه های کار و فعالیت شدیداً نیاز دارند. تا زمانیکه رفع این نیاز مندی ها برای معیوبین به واقعیت زندگی شان مبدل نگردند، پیشرفت و رفاه در جوامع ما تجسم عینی وواقعی بخود نخواهد گرفت.

پروگرام همه جنبهٔ معیوبین افغان CDAP مربوط اداره انکشافی و دفتر خدماتی ملل متحد، با در نظر داشت خطوط اساسی اعلامیه حقوق بشر و اصل تساوی زمینه ها برای همه انسان ها تعهد دارد تا معیوبین افغان را از زنده گی وابستگی به دیگران به مرحله اتکاء و اعتماد بخود و حد خود کفایی یاری نماید.

جهت تجدید تعهد برای یکجاسازی معیوبین در روند عادی زنده گی و بلند بردن سطح اگاهی عامه راجع به مشکلات و ضرورت های معیوبین در جامعه افغانی، سوم دسامبر، روزجهانی معیوبین به ابتکار دفتر پروگرام همه جانبهٔ معیوبین افغان (CDAP) و بااشتراك عدهٔ ای از مؤسسات غیر دولتی افغانی و بین المللی طی محافل سخنرانی و نمایش های مصنوعات و کار دستی معیوبین افغان در بسیاری از شهر های بزرگ کشور تجلیل گردید.

اداره CDAP بخاطر بزرگ داشت روز جهانی معیوبین در دفتر مرکزی خود در شهر پشاور محفلی را بدین مناسبت برگزار نمود که طی آن برعلاوه نمایش کار های دستی معیوبین،



سخنرانی های مفصل بمناسبت معیوبیت و مسئولیت های جامعه در قبال آن ایراد گردید.

جلسه باسخن افتتاحیهٔ محترم فاروق "وردك" مسئول داخلی CDAP آغاز و متعاقباً محترم محمد ولی "نعیمی" معاون قونسلگری افغانستان در پشاور پیتر کولریج، سرمشاور تخنیکی CDAP و محترم عبدالرحمن سهاك رئیس د افغان معیوبینو ټولنه سخنرانی نمودند.

محترم غلام صدیق رئیس انجمن نابینایان افغانستان پیامی به نماینده گی معیوبین افغان قرأت نمودند. وی طی پیام خود اظهار نمود که "من آرزومند تربیه ورسیدن معیوبین به موقف های بلند میباشم تا آنها بتوانند در بازسازی مجدد افغانستان فعالانه سهیم گردند". وی در پیام خود از معیوبین خواست تابحیث فعالترین اعضای جامعه با تمام انرژی و قوت خویش در اعمار وطن شان سهم ارزنده داشته باشند.

در ختم این محفل یك مادر وهفت تن از معیوبین نسبت عرضهٔ خدمات ارزنده به معیوبین، خوبی تعلیم وتربیه اطفال معیوب، تمثیل عملی خود کفایی و اعتماد به خود در زنده گی، مستحق جایزه معیوبین سال ۱۹۹۷ اعلان شدند. اسناد تقدیر وجوایز به ایشان تفویض گردید. اسماء این معیوبین قرار ذیل اند:

۱. خواهر سیمین که یك پای خود رادر حادثه انفجار ماین از دست داده اند.

معیوبین باید فعالترین اعضای جامعه با تمام انرژی و قوت خویش در اعمار وطن شان سهم ارزنده داشته باشند.

PROPERTY OF ACKU

۲. محترمه عایشه، مادر دو پسر ویك دختر نابینا.

۳. محترم غلام صدیق رئیس انجمن نابینایان افغان که به هر دو چشم نابینا می باشند.

٤. خواهر مینا اکبری که یك پای شان از آوان طفلویت فلج بوده و حدود "٥٠٠" دختر را در مسلك بافندگی تربیه نموده اند.

٥. محترم بزگر که حس شنوائی را از دست داده و قدرت تکلم را نیز ندارد.

٦. محترم روح الله ولید که از توان تکلم محروم بوده و حس شنوائی را نیز از دست داده اند. ولید در ورزش کاراته کاندید کمربند سیاه میباشد.

۷. خواهر فریده، طفل خورد سال که حس بینائی خود را از دست داده است وفعلاً شاگرد صنف ششم بوده و نوشتن توسط بریل را نیز آموخته اند.

۸. طفل خورد سال فریدالله جان، که دچار مشکل توازن ذهنی بوده و فعلاً شاگرد صنف اول مکتب می باشد.

خپروونکی

د افغان معیوبینو هر اړخیز پروګرام (CDAP).
د لیکنی د بورډ تر نظر لاندی.

پته:
د ملګرو ملتونو له خوا د افغان معیوبینو هر اړخیز پروګرام.
ګل موهر لین C-17
پوست بکس 740
یونیورسټي ټاون، پیښور ،پاکستان.
تلیفون: ٤٣٢١٥، ٤١٣٧٨ (٠٩١) ٩٢
فکس: ٨٤٤٩٤٦ (٠٩١) ٩٢.
اي میل: E-mail:
cdap@ undcdap.pwr.sdnpk.undp.org.

ترتیب او دیزین:- بنـــــــي لیك کمپیوټر کمپوزنګ سنټر. ٤٧ مراد پلازا، تهوان ستاپ، یونیورستی روډ، پیښور، پاکستان. تلیفون: 843096 (091) پوست بکس: U.P.O Box: 783